برښنا

د افغانستان اسلامي امارت

د امارتي شرکتونو لوی ریاست
د افغانستان برښنا شرکت
عملیاتي ریاست
عملیاتي معاونیت
د تولیدي دستګاوو د څارنې او څیړنې آمریت
د نوي کیدونکي انرژي دستګاوو د څارنې او څیړنې مدیریت

ګڼه: ۱۱۸۶۴۷ / ۱۰

نېټه: ۱۴۴۷/۲/۱۱

| احکام | وړاندیز |
|---|---|
| | بسم الله الرحمن الرحيم<br><br>**د ریاست الوزرأ عالي مقام قدرمن اقتصادي معاونیت ته!**<br><br>**اَلسَّلامُ عَلَيكمْ وَ رَحْمَةُ الله وَ بَرَكاتُه**<br><br>**موضوع: د کابل ولایت د نغلو (۱۰) میګاواټه لمریزې برېښنا تولیدي دستګاه د تسلیمۍ په اړه:**<br><br>لکه څرنګه چې ستاسې عالي مقام په جریان کې یاست، د نغلو (۱۰) میګاواټه لمریزې دستګاه پروژه ستاسې عالي مقام د (۱۴۲۴) ګڼې او (۱۴۴۵/۳/۱۲) نېټې مکتوب پر بنسټ منظور شوې ده، د اوبو او انرژۍ وزارت او عوفي بهرام شرکت ترمنځ د (۱۴۴۵/۳/۹) نېټې موافقتنامې له مخې امضاء شوې، او د یاد وزارت د (۴۲۰۵/۳۷۴۴) ګڼې (۱۴۴۶/۹/۲) نېټې مکتوب په اساس د (۲/اکتوبر/۲۰۲۳) نېټه پیل او د (۳۰/سپتمبر/۲۰۲۴) نېټه بشپړه شوې ده.<br>ستاسې محترم عالي مقام د (۳۷۷۶) ګڼې او (۱۴۴۶/۸/۲۷) نېټې حکم پر اساس، د اوبو او انرژۍ وزارت او عوفي بهرام شرکت ترمنځ په امضا شوې موافقتنامه کې ذکر شوې ټول مبلغ (۷۶۹۶۶۵۰) امریکایي ډالر عوفي بهرام شرکت ته د افغانستان برېښنا شرکت لخوا تادیه شوې دي چې وروسته له هغه د افغانستان برېښنا شرکت یوه ځانګړې کمیټه وټاکله څو د پروژې د تسلیمۍ چارې ترسره کړي، یادې کمیټې په پرله پسې ډول د اوبو او انرژۍ وزارت څخه د اړینو اسنادو غوښتنې کړې دي، چې دا غوښتنې د مکتوبونو، رسمي ناستو او حتی د واټساپ له لارې څو ځله تکرار شوې دي. کوم مهم اسناد چې غوښتل شوي عبارت دي له:<br>۱. د پروژې تطبیقي قرارداد د ټولو ضمیمو سره.<br>۲. د پروژې د ډیزاین بشپړ او نهایي اسناد.<br>۳. د پروژې لومړنی براورد (ابتدایي بل احجام).<br>۴. د پروژې د تکمیل وروسته تثبیت شوی براورد (دوهم بل احجام).<br>۵. د هر ډول احتمالي اضافي کار اسناد او د اجرا لپاره اړوند حکم.<br>خو تر اوسه یاد وزارت بشپړ اسناد نه دي شریک کړي. هغه څه چې شریک شوي، له جدي نیمګړتیاوو سره مخ دي، په ځانګړي ډول په لاندې درېو برخو کې: |

- د پروژې تطبیقي قرارداد تراوسه د ټولو ضمیمو سره نه دی شریک شوی: یوازې د موافقتنامې کاپي شته، خو د اصلي قرارداد نشتوالی د مالي او حقوقي شفافیت لپاره جدي ستونزه ده.
- د پروژې د دیزاین اسناد نیمګړي دي: که څه هم ځینې برخې شریکې شوې، خو نهایي دیزاین نه دی شریک شوی، چې د پروژې د تخنیکي کیفیت او راتلونکي ساتنې ورتیا تر پوښتنې لاندې راولي.
- د براوردونو بشپړ اسناد هم نه دي شریک شوي: د لومړني براورد (ابتدایي بل احجام) او د وروستي براورد (له تطبیق وروسته تثبیت شوی بل احجام) معلومات نه دي موجود، چې د مالي او فزیکي شفافیت ارزونه له ستونزو سره مخ کوي.

همدارنګه د شریک شوو اسنادو پر بنا حتی دا هم په سمه توګه نه شي تثبیت کېدای چې نوموړی قرارداد د لس میګاواټه (AC) او که (DC) تولید پر اساس شوی دی، چې دا موضوع د تخنیکي وضاحت او روڼتیا له پلوه د جدي اندېښنې وړ ده.
له بلې خوا، ستاسې عالي مقام د (۵۵۳) ګڼې او (۱۴۴۷/۲/۶) نېټې مکتوب پر اساس یوه بله ځانګړې کمیټه د اقتصادي معاونیت په چوکاټ کې جوړه کړه څو د پروژې د احتمالي اضافي کار موضوع وڅېړي. نوموړې کمیټې د افغانستان برېښنا شرکت، اوبو او انرژۍ وزارت او قراردادي شرکت په ګډون دوامداري ناستې وکړې. د څېړنو په پایله کې څرګنده شوه چې اضافه کارې د ترسره شوي قرارداد د مجموعي قیمت په محدوده کې ده؛ له همدې امله پرېکړه وشوه چې د اضافي کار په نوم انتقال شوې پیسې بېرته د افغانستان برېښنا شرکت حساب ته ولېږدول شي، او هغه پیسې اوس بېرته د افغانستان برېښنا شرکت حساب ته ستنې شوې دي.
د تسلیمۍ لپاره د افغانستان برېښنا شرکت له لوري ټاکل شوې کمیټې تفصیلي راپور د دې وړاندیز سره ضمیمه شوی دی.
همدارنګه، د پروژې موقعیت د سیلاب د جدي خطر سره مخ دی، او په وروستیو پېښو کې د احاطوي دېوال یوه برخه تخریب شوې چې د پروژې د خوندیتوب په برخه کې د اندېښنې وړ ده.

له دې امله چې د اړینو اسنادو نه شریک کېدل او د نیمګړو تخنیکي معلوماتو شتون د تسلیمي پروسه ځنډولې ده، موضوع ستاسې قدرمن عالي مقام ته وړاندې کېږي، څرنګه چې لازم ګڼئ، هدایت مو د تعمیل وړ دی.

والسلام

مولوي محمود شاه "زاهد"

د امارتي شرکتونو لوی ریاست کفیل

قید وارده
۱۴۴۷/۳/۱۱

2107

47-3-11

3575